
# مخکې تر هر څه د لاسو پرېولل زده کړه

ماشومانو ته ئې ور زده کړئ: ★ماشومانو ته د اوداسه ګټې بيان کړئ. ★الله تعالی پاکي کوونکي خوښوي.(۱) بېشکه الله تعالی اودس کوونکو ته د هغوی ګناهونه وربخښي.(۲) په اوداسه سره ناپاکي او چټلي ليري کيږي. ★ماشومانو ته اودس کول ور زده کړئ يعني دا چي تر اوداسه مخکې په زړه کي اراده وکړي چي د الله جل شانهُ د راضي کولو او پاکۍ حاصلولو لپاره اودس کوم.(۳) د بسم الله الرحمٰن الرحيم په ويلو سره اودس شروع کړئ.(۴) اول لاسونه تر مړوندو پوري پرېولئ.(۵) لومړی راسته او بيا چپه لاس پرېولئ.(٦) او ګوتي هم خلال کړئ.(۷) که دي انګشترۍ په ګوته وي نو هغه سره وښوروئ.(۸) که پر لاسو باندي داسي رنګ وي يا رنګ ناخن وي چي اوبه تر پوستکي پوري نه سي رسېدلای نو هغه ليري کړئ چي اوبه د بدن تر هغو برخو پوري ورسيږي چي په اوداسه کي ئې پرېولل ضروري دي او دې ته بايد ښه پام وسي چي په اوداسه کي يو ځای وچ پاته نه سي.(۹)



Ketabton.com

**تمرين:** د ماشومانو څخه په مختلف ډول پوښتني وکړئ او جوابونه ئې ښه ورپياد کړئ. مثلاً: د اوداسه ګټي کومي دي؟ د اوداسه نيت څنګه کيږي؟ د څه شي په ويلو سره بايد اودس شروع کړل سي؟ لاسونه بايد څنګه او تر کومه ځايه پرېولل سي؟ آيا ګوتي خلالېدل غواړي؟ که پر بدن داسي يو شی وي چي د اوداسه اوبه بدن ته نه پرېږدي نو څه بايد وکړل سي؟ (دغه هر سوال او جواب ليکلای هم سئ) ماشومانو ته وواياست چي دا عمل په مثالي شکل ستاسو په وړاندي اداء کړي او که کوم ځای غلط وي هغه ور اصلاح کړئ.

---

[1]: التوبة: ۱۰۸.

[2]: صحيح المسلم: باب خروج الخطايا مع ماء الوضوء، حديث نمبر:۵۷۷- ۵۷۸، ۱۲۱مخ.

[3]: صحيح البخارى: باب كيف كان بدء الوحى، حديث نمبر:۱، ۱مخ

[4]: سنن ابى داؤد: باب فى التسمية على الوضوء، حديث نمبر:۱۰۱، ۱۰۲، ۳۱مخ.

[5]: صحيح البخارى: باب الوضوء ثلاثا ثلاثا، حديث نمبر: ۱۵۹، ۳۲مخ.

[6]: صحيح البخارى: باب التيمن فى الوضوء والغسل، حديث نمبر۱۶۸، ۳۴مخ

[7]: سنن الترمذى:باب فى تخليل الاصابع، حديث نمبر:۳۸-۳۹، ۱۲مخ.


[8]: المصنف لابن ابى شيبه: باب فى تحريک الخاتم فى الوضوء، حديث نمبر: ۴۲۴- ۴۳۴، ۳۷۰- ۳۷۲مخونه.

[9]: صحيح المسلم: باب وجوب استيعاب جميع اجزاء محل الطهارة، حديث نمبر۵۷۶، ۱۲۱مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## ما ته خوله پرېولل هم را زده کړه

ماشومانو ته ئې ور زده کړئ: ★ ماشومان وپوهوئ چې مسواک ووهي.(۱۰) د مسواک ګټې ورته بيان کړئ چې خوله پاکوي او الله تعالی په راضي کيږي.(۱۱) مسواک وهل سنت عمل دئ.(۱۲) د کوم لمانځه دپاره چې مسواک وهل سوئ وي تر هغو اويا (۷۰) لمنځونو ښه دئ چې د هغه لپاره مسواک نه وي وهل سوئ.(۱۳) که مسواک پيدا نه سي نو پر ځای ئې د غاښو برس يا د راسته لاس د شهادت ګوته وکاروئ.(۱۴) مسواک بايد د غاښو پر راسته او چپه خواوو ووهل سي.(۱۵) بيا درې واره په ښه توګه غرغره وکړئ.(۱۶) په راسته لاس خوله پرېولل سنت طريقه ده.(۱۷) او درې واره په ښه توګه په پزه اوبه وګرځوئ.(۱۸) په چپه لاس پزه سوڼ کړئ.(۱۹)



**تمرين:** د ماشومانو څخه په مختلف ډول پوښتني وکړئ او جوابونه ئې ښه ورپياد کړئ. مثلاً: د مسواک ګټې څه دي؟ که مسواک نه وي څه بايد وکړل سي؟ خوله بايد په کوم لاس پرېولل سي؟ د مسواک وهلو سنت طريقه کومه ده؟ څو واره بايد په پزه اوبه وګرځول سي؟ پزي ته بايد په کوم لاس اوبه ور واچول سي؟ پزه بايد په کوم لاس پاکه سي؟ (دغه هر سوال او جواب ليکلای هم سئ) ماشومانو ته ووايا ست چې دا عمل په مثالي شکل ستاسو په وړاندي اداء کړي او که کوم ځای غلط وي هغه ور اصلاح کړئ.

---

[10]: صحيح البخارى: باب السواک يوم الجمعة، حديث نمبر: ۸۸۷- ۸۸۹، ۱۴۳مخ.
[11]: سنن النسائى: باب الترغيب فى السواک، حديث نمبر:حديث نمبر: ۵، ۱مخ.
[12]: صحيح البخارى: باب السواک، حديث نمبر: ۲۴۴. ۴۵مخ.
[13]: مرقاة المفاتيح شرح مشكاة المصابيح، باب السواک، حديث نمبر: ۳۸۹، ۲ټوک، ۹۲مخ.
[14]: كنز العمال: السواک، حديث نمبر:۲۶۱۶۳، ۹ټوک، ۱۳۷مخ.
[15]: ويستحب ان يبدأ بالجانب الايمن من فمه عرضًا. مرقاة المفاتيح: ۸۰مخ، ۲ټوک. رياض الصالحين: حديث نمبر: ۸۳۲، ۲۲۱مخ.
[16]: صحيح البخارى: باب المضمضة فى الوضوء، حديث نمبر:۱۶۴، ۳۳مخ.
[17]: صحيح النسائى: باب بأى اليدين يتمضمض، حديث نمبر: ۸۵، ۱۱مخ.
[18]: صحيح البخارى: باب الاستنثار فى الوضوء، حديث نمبر:۱۶۱، ۳۳مخ.
[19]: سنن النسائى:باب بأى اليدين يستنثر، حديث نمبر:۹۱، ۱۲مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## ماته د مخ پرېولل را وښيه

ماشومانو ته ئې ورزده کړئ: ★ درې واره مکمل مخ پرېوله.(۲۰)یعني د وربښتانو د راشنه کېدو ځخه بیا د زني تر لاندې برخې پورې او د یوه غوږ د نرمۍ ځخه بیا تر د بل غوږ تر نرمۍ پورې ټوله مخ پرېولې.(۲۱)



**تمرين:** د ماشومانو ځخه په مختلف ډول پوښتني وکړئ او جوابونه ئې ښه ورپیاد کړئ. مثلاً: مخ باید ځو واره پرېولل سي؟ د کوم ځای ځخه تر کوم ځایه باید پرېولل سي؟ (دغه هر سوال او جواب لیکلای هم سئ) ماشومانو ته ووایاست چي دا عمل په مثالي شکل ستاسو په وړاندې اداء کړي او که کوم ځای غلط وي هغه ور اصلاح کړئ.

---

[۲۰]: صحيح البخارى: باب الوضوء ثلاثا ثلاث، حديث نمبر:۱۵۹، ۳۲مخ.


[۲۱]: وحد الوجه من قصاص الشعر الى اسفل الذقن والى شحمتى الاذنين. الهداية: كتاب الطهارت، ۳۰مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اوس د ټوله لاس پرېولل را زده کړه

ماشومانو ته ئې ور زده کړئ: ★ دواړه لاسونه درې واره د څنګلو سره پرېولئ.(۲۲) او ماشومانو ته دا هم ور وښياست چې په ټولو ښو کارونو کي د راسته طرف څخه شروع کول د نبي عليه سلام سنت طريقه ده.(۲۳) نو تاسو يوازې په اوداسه کي نه بلکه په هر کار کي دې ته پام وکړئ مثلاً: اول راسته لاس بيا چپه لاس، اول راسته پښه بيا چپه پښه. ★ کوم ځای چې په اوداسه کي پرېولل غواړي که پر هغه ځای باندي يو شی وي لکه ساعت، لاس بند، بنګړي، غوږ والي، لاس بند ، انګشتری يا رنګ ناخون نو پام مو وي چې بايد وښورول سي تر څو د بدن لاندي حصې ته اوبه ورسيږي.(۲۴)



**تمرين:** د ماشومانو څخه په مختلف ډول پوښتني وکړئ او جوابونه ئې ښه ورپياد کړئ. مثلاً: لاس بايد څو واره پرېولل سي؟ تر کومه ځايه بايد پرېولل سي؟ که چا يو شی په لاس کړئ وي نو بايد څه شی په پام کي ونيسي؟(دغه هر سوال او جواب ليکلای هم سئ)ماشومانو ته وواياست چې دا عمل په مثالي شکل ستاسو په وړاندي اداء کړي او که کوم ځای غلط وي هغه ور اصلاح کړئ.

---


[۲۲]: صحيح البخارى: باب الوضوء ثلاثا ثلاث، حديث نمبر:۱۵۹، ۳۲مخ.
[۲۳]: صحيح البخارى: باب التيمن فى الوضوء والغسل، حديث نمبر۱۶۸، ۳۴مخ
[۲۴]: صحيح المسلم: باب وجوب استيعاب جميع اجزاء محل الطهارة، حديث نمبر۵۷۶، ۱۲۱مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د سر مسح څنګه کیږي؟

ماشومانو ته ئې ور زده کړئ: یو وار د ټول سر مسح وکړئ. د سر د مسح کولو اسانه طریقه دا ده چې د دواړو لاسو ګوتې او ورغوي لانده کړل سي او د سر پر مخکنۍ برخه کښېښول سي او دا رقم شا ته کش کړل سي چې ټول سر مسح سي.(۲۵)د سر (د مسحې) سره، د ګوتو په شا باندې د غاړې اخري حصه یعني څټ مسح هم وکړئ.(۲۶)



**تمرین:** د ماشومانو څخه په مختلف ډول پوښتنې وکړئ او جوابونه ئې ښه ورپیاد کړئ. مثلاً: سر باید څو واره مسح سي؟ د کوم ځای څخه تر کوم ځای پوري باید مسح سي؟ د سر د مسحه کولو دپاره اسانه طریقه کومه ده؟ آیا د سر سره باید د غاړې مسح هم وکړل سي؟ (دغه هر سوال او جواب لیکلای هم سئ)ماشومانو ته وواياست چې دا عمل په مثالي شکل ستاسو په وړاندې اداء کړي او که کوم ځای غلط وي هغه ور اصلاح کړئ.

---


[۲۵]: صحيح البخارى: باب مسح الرأس مرة، حديث نمبر:۱۹۲، ۳۸مخ.

[۲۶]: فقد روى مرفوعًا من توضأ ومسح عنقه وقى الغل يوم القيمة. رواه الديلمى فى مسند الفردوس. الفقه الحنفى فى ثوب الجديد: ۱ټوک، ۷۹مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## اوس نو د غوږ مسح څنګه وکړم؟

ماشومانو ته ئې ور زده کړئ: ★د سر تر مسحي وروسته يو وار د غوږو مسحه هم وکړئ. د غوږو د مسحي لپاره دوهم وار د لاسو لندولو ضرورت نسته بلکه د سر د مسحي لپاره چي لاسونه لانده سوي وه هغه کافي دي.(۲۷) د غوږو د مسحي اسانه طريقه دا ده چي د غوږو په سوريانو او دننه برخه کي شاوخوا د شهادت ګوتي سره راتيري کړئ او په بټو ګوتو سره د غوږو شا مسح کړئ.(۲۸) او د غوږونو په سوريو کي خمچه ګوته ونږوروئ.



**تمرين:** د ماشومانو څخه په مختلف ډول پوښتني وکړئ او جوابونه ئې ښه ورپياد کړئ. مثلاً: د غوږو مسح بايد څو واره وسي؟ آيا د غوږو د مسح کولو لپاره لاسونه بيا لندېدل غواړي؟ غوږونه بايد څنګه مسح سي؟ (دغه هر سوال او جواب ليکلای هم سئ)ماشومانو ته وواياست چي دا عمل په مثالي شکل ستاسو په وړاندي اداء کړي او که کوم ځای غلط وي هغه ور اصلاح کړئ.

---

[۲۷]:سنن نسائی: باب مسح الاذنين مع الرأس و ما يستدل به على انهما من الرأس، حديث نمبر:۱۰۲- ۱۰۳، ۱۴مخ.
[۲۸]: سنن نسائی: باب مسح الاذنين مع الرأس و ما يستدل به على انهما من الرأس، حديث نمبر:۱۰۲- ۱۰۳، ۱۴مخ.
وايضًا: حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح، ۷۶مخ. وايضًا: الفقه الحنفى، ۱ټوک، ۷۸مخ.


(c) ketabton.com: The Digital Library



## پښې باید څنګه پرېولل سي؟

ماشومانو ته ئې ور زده کړئ: ★ پښې د بجلکو سره درې واره پرېولئ.(۲۹) پام کوئ چي تلي، بجلکي یا پوندي وچي پاته نه سي. اول راسته پښه پرېولئ بیا چپه پښه. ★ د پښو ګوتي هم خلال کړئ.(۳۰) اودس په ترتیب سره وکړئ، یعني اول نیت وکړئ،بیا بسم الله ووایاست، بیا دواړه لاسونه تر مړوندو پوري پرېولئ او ګوتي هم خلال کړئ، بیا مسواک ووهئ او خوله پرېولئ، بیا پزې ته اوبه واچوئ، بیا مخ پرېولئ، بیا تر څنګلو پوري لاسونه پرېولئ، بیا د سر ، غوږونو او غاړي مسح وکړئ او بیا پښې پرېولئ.(۳۱)

د اوداسه فرضونه څلور دي: درې اندامونه پرېولل او یو اندام مسح کول. یعني (۱) مخ پرېولل (۲) دواړه لاسونه د څنګلو سره پرېولل (۳) دواړې پښې د بجلکو سره پرېولل (۴) د سر مسح کول (۳۲) ( که ددغو فرضو څخه یو هم پاته سي نو اودس نه صحیح کیږي چي بیا لمونځ هم نه صحیح کیږي)



**تمرین:** د ماشومانو څخه په مختلف ډول پوښتني وکړئ او جوابونه ئې ښه ورپیاد کړئ. مثلاً: پښې باید څو واره پرېولل سي؟ د کوم ځای څخه تر کوم ځای پوري باید پرېولل سي؟ آیا د پښې ګوتي خلالېدل غواړي؟ د اوداسه ترتیب څنګه دئ؟ (دغه هر سوال او جواب لیکلای هم سئ)ماشومانو ته ووایاست چي دا عمل په مثالي شکل ستاسو په وړاندي اداء کړي او که کوم ځای غلط وي هغه ور اصلاح کړئ.

---

[۲۹]: صحیح البخاری: باب الوضوء ثلاثا ثلاثا، حدیث نمبر: ۱۵۹، ۳۲مخ.
[۳۰]: سنن الترمذی:باب فی تخلیل الاصابع، حدیث نمبر:۳۸- ۴۰، ۱۲مخ.
[۳۱]: صحیح المسلم: باب صفة الوضوء وکماله، حدیث نمبر:۵۳۸- ۵۳۹، ۱۱۴- ۱۱۵مخونه.
[۳۲]: المائدة: ۶.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## ما ته اذان د سم تلفظ سره را پیاد کړه او د آذان جواب هم را زده کړه

| | |
|---|---|
| اَللّٰهُ اَكْبَر اَللّٰهُ اَكْبَر | اَللّٰهُ اَكْبَراَللّٰهُ اَكْبَر |
| أَشْهَدُ أَنْ لَّا اِلٰه اِلَّا الله | أَشْهَدُ أَنْ لَّا اِلٰه اِلَّا الله |
| أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ الله | أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ الله |
| حَيَّ عَلَى الصَّلوه | حَيَّ عَلَى الصَّلوه |
| حَيَّ عَلَى الْفَلَاح | حَيَّ عَلَى الْفَلَاح |
| اَللّٰهُ اَكْبَر | اَللّٰهُ اَكْبَر |

لَا اِلٰه اِلَّا الله(۳۳)

ماشومانو ته ئې ور زده کړئ: ★انجونو ته اذان د تلفظ سره ورپیاد کړئ مګر انجونو ته اذان یوازي ددې لپاره ورپیاد کړئ چي د اذان جواب ورکولای سي او ماشومانو ته وواياست چي انجوني باید اذان و نه کړي.(۳۴) او په کښېنته اواز جواب ورکړئ. ★ د اذان جواب زده کړئ. طريقه يې دا ده چي مؤذن څه وايي هغه دي تکراروي، البته د حَيَّ عَلَى الصّلوه ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاح په جواب کي لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّتَ اِلَّا بِاللّٰهِ ويل کيږي.(۳۵) د سهار په اذان کي دغه توري وراضافه کيږي، اَلصَّلوةُ خَيْرٌ مِّنَ النَّوْم.(۳٦) د اَلصَّلوةُ خَيْرٌ مِّنَ النَّوْم په جواب کي صَدَقْتَ وَبَرَرْتَ ويل کيږي.(۳۷)

**تمرين:** اذان او درود شريف د سم تلفظ سره ورته وواياست، د ماشومانو څخه په مختلف ډول پوښتني وکړئ او جوابونه ئې ښه ورپیاد کړئ. مثلاً: د اذان جواب څنګه ورکول کيږي؟ د حَيَّ عَلَى الصّلوه ، حَيَّ عَلَى الْفَلَاح په جواب کي بايد څه وويل سي؟ د اَلصّلوةُ خَيْرٌ مِّنَ النَّوْم په جواب کي بايد څه وويل سي؟ (دغه هر سوال او جواب ليکلای هم سئ)ماشومانو ته وواياست چي دا عمل په مثالي شکل ستاسو په وړاندي اداء کړي او که کوم ځای غلط وي هغه ور اصلاح کړئ.

## تر اذان وروسته کومه دعاء وکړم؟

أَللّٰهُمَّ رَبَّ هٰذِهِ الدَّعْوَةِ التَّآمَّةِ ۞ وَالصَّلوةِ الْقَآئِمَةِ ۞آتِ مُحَمَّدَ نِ الْوَسِيْلَةَ وَالْفَضِيْلَةَ ۞ وابْعَثْهُ مَقَاماً مَّحْمُوْدَ نِ الَّذِیْ وَعَدْتَّهٗ ۞ اِنَّکَ لَا تُخْلِفُ الْمِيْعَادَ.(۳۸)

---

۳۳: سنن ابی داؤد: باب کیف الاذان، حدیث نمبر:۵۰۱/۴۹۹، ۱۱۱- ۱۱۲مخونه.
۳٤: المصنف لابن ابی شیبه: باب فی النساء من قال لیس علیهن أذان ولا اقامة، حدیث نمبر: ۲۳۲۶-۲۳۳۵ ،۲ټوک ۳۶۶- ۳۶۷مخونه.
۳۵: صحيح المسلم: باب استحباب القول مثل قول المؤذن لمن سمعه ثم یصلی علی النبی ﷺ ثم یسأل الله له الوسیلة، حدیث نمبر:۸۴۸- ۸۵۱، ۱۶۳مخ.
۳٦: سنن ابی داؤد: باب کیف الاذان، حدیث نمبر:۵۰۰/۵۰۱/۵۰۴، ۱۱۲- ۱۱۳مخونه.
۳۷: الاذکار النوویة: باب ما یقول من سمع المؤذن والمقیم، ۳۶مخ.
۳۸: صحيح البخاری: باب الدعاء عند النداء، حدیث نمبر:۶۱۴، ۱۰۲مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اوس اقامت هم را زده کړه

| | |
|---|---|
| اَللّٰهُ أَكْبَرَ اَللّٰهُ أَكْبَرَ | اَللّٰهُ أَكْبَرَاَللّٰهُ أَكْبَرَ |
| أَشْهَدُ أَنْ لَّا اِلٰه اِلَّا اللهُ | أَشْهَدُ أَنْ لَّا اِلٰه اِلَّا اللهُ |
| أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللهِ | أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَّسُوْلُ اللهِ |
| حَیَّ عَلَی الصَّلٰوه | حَیَّ عَلَی الصَّلٰوه |
| حَیَّ عَلَی الْفَلَاح | حَیَّ عَلَی الْفَلَاح |
| قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ | قَدْ قَامَتِ الصَّلَاةُ |
| اَللّٰهُ أَكْبَرَ | اَللّٰهُ أَكْبَرَ |

لَا اِلٰه اِلَّا اللهُ(۳۹)

ماشومانو ته ئې ور زده کړئ: ★ د اذان تر جواب وروسته بايد پر نبي کريم عليه سلام درود شريف وويل سي.(۴۰)ماشومانو ته د اذان دعاء او اقامت د سم تلفظ سره ور پياد کړئ. خو اقامت يوازي ددې لپاره چي انجوني د ضرورت په وخت کي په کښته آواز جواب ورکړي.(۴۱)ماشومانو ته دا ور زده کړئ چي د اذان تر جواب وروسته بايد د نبي کريم عليه سلام لپاره د وسيلې دعاء وکړي تر څو د قيامت په ورځ مو د رسول الله صلى الله عليه وسلم شفاعت نصيب سي.(۴۲) هر وخت چي د نبي کريم صلى الله عليه وسلم نوم ياد سي نو صلى الله عليه وسلم وواياست.(۴۳) د اقامت جواب زده کړئ: طريقه ئې دا ده چي مؤذن څه وايي هغه دي تکراروي، البته د حَیَّ عَلَی الصَّلٰوه ، حَیَّ عَلَی الْفَلَاح په جواب کي لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّتَ اِلَّا بِاللهِ ويل کيږي ★ د قَدْ قَامَتِ الصَّلٰوة کي بايد أَقَامَهَاللهُ وَ اَدَامَهَا وويل سي.(۴۴) ماشومانو ته په ټوله کتاب کي هر ځای وقف ور زده کړئ. مثلاً: د وقف په وخت بايد آخري حرف ساکن وي، د وقف په حالت کي دوه زوره والا تنوين په الف بدليږي او په وقف کي ګول تاء (ة) په هاء (ه) بدليږي.

**تمرين:** د ماشومانو څخه په مختلف ډول پوښتني وکړئ او جوابونه ئې ښه ورپياد کړئ. مثلاً: د اذان او اقامت څه فرق دئ؟ د اذان دعاء د سم تلفظ سره ورڅخه واورئ؟ د ماشومانو څخه د وسيلې دعاء او اقامت د سم تلفظ سره واورئ؟ د ماشومانو څخه وپوښتئ چي په اقامت کي د قَدْ قَامَتِ الصَّلٰوة په جواب کي بايد څه وويل سي او کوم ځای چي غلط وو هغه ور اصلاح کړئ.

---

[۳۹]: سنن ابی داؤد: باب کیف الاذان، حدیث نمبر: ۵۰۷/۵۰۶/۵۰۲/۴۹۹، ۱۱۱-۱۱۴مخونه، وفی الباب فی الاقامة، حدیث نمبر:۵۱۰،۱۱۶مخ.

[۴۰]: صحیح المسلم: باب استحباب القول مثل قول المؤذن لمن سمعه ثم یصلی علی النبی ﷺ ثم یسأل الله له الوسیلة، حدیث نمبر:۸۴۸، ۱۶۳مخ.

[۴۱]: المصنف لابن ابی شیبه: باب فی النساء من قال لیس علیهن أذان ولا اقامة، حدیث نمبر: ۲۳۲۶- ۲۳۳۵ ،۲ټوک ۳۶۶- ۳۶۷مخونه.

[۴۲]: المصنف لابن ابی شیبه: باب فی النساء من قال لیس علیهن أذان ولا اقامة، حدیث نمبر: ۲۳۲۶- ۲۳۳۵ ،۲ټوک ۳۶۶- ۳۶۷مخونه.

[۴۳]:سنن الترمذی: باب قول رسول الله صلی الله علیه وسلم (رغم انف رجل)، حدیث نمبر: ۳۵۴۶-۳۵۴۵، ۸۰۸ مخ.

[۴۴]: سنن ابی داؤد: باب ما یقول اذا سمع الاقامة، حدیث نمبر:۵۲۸، ۱۱۹ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د لمانځه تر آداء مخکې کوم شیان په یاد ولرم؟

ماشومانو ته ئې ور زده کړئ: ★ تر لمانځه مخکې په یاد ولرئ چې تاسو باید اودس ولرئ.(۴۵) ستاسو کالي(۴٦) او د لمانځه ځای باید پاک وي.(۴۷) او ستاسو مخ باید د قبلې خوا ته وي.(۴۸) تر لمانځه مخکې مو باید دې ته ښه پام وي چې د مخ، لاسونو او پښو څخه ماسِوا ستاسو ټول بدن باید په جامه پټ وي.(۴۹) ځکه که د سر د وربښتانو، غوږ یا د بدن د بلې برخې څلورمه حصه د دومره وخت لپاره ښکاره سي چې د یوه رکن (درې واره سبحان ربی العظیم په اندازه) پکښې ویل کیږي نو لمونځ نه صحیح کیږي خو که د دې څخه کم وخت ښکاره پاته سي او بیا یې ژر پټ کړي نو لمونځ صحیح دئ خو دا کار ګناه ده.(۵۰) ته باید سیده ودریږي او نظر دي هم د سجدې پر ځای وي. داسي سیده ولاړه چې د سجدې ځای لیدلای سې.(۵۱) ستا د پښو ګوتي هم باید د قبلې طرف ته وي او دواړي پښې سیده د قبلې طرف ته کړه.(۵۲) (پښې راسته او چپه خوا ته کږول د سنت خلاف دي) ★ انجونو ته ور زده کړئ چې لمونځ باید یوازې وکړي.

**تمرین:** د ماشومانو څخه په مختلف ډول پوښتني وکړئ او جوابونه ئې ښه وریپاد کړئ. مثلاً: د ماشومانو څخه وپوښتئ چې د لمانځه د شروع کولو څخه مخکې باید کوم شیان په پام کې ونیول سي؟ ستاسو مخ باید کومې خوا ته وي؟ او ستاسو نظر باید پر کوم ځای وي؟ (دغه هر سوال او جواب لیکلای هم سئ) ماشومانو ته وواياست چې دا عمل په مثالي شکل ستاسو په وړاندې اداء کړي او که کوم ځای غلط وي هغه ور اصلاح کړئ.

## د لمانځه د شروع کولو پر وخت باید کوم شیان په پام کې ونیسم؟

ماشومانو ته ئې ور زده کړئ: ماشومان پوه کړئ چې د ستر په خاطر د انجونو لپاره د کور په خونه کې لمونځ کول ډېر ښه دئ.(۵۳) په زړه کې نیت وکړه چې فلانی لمونځ کوم، په ژبه ویل ضروري نه دي. ★ د لمانځه د شروع په وخت کې باید لاسونه تر غوږو پوري نه بلکه تر اوږو پوري پورته سي او هغه هم په پوړنې کې دننه، د پوړنې څخه را ایستل او بیا پورته کول نه دي په کار.(۵۴) او بیا لاسونه داسي پورته کړئ لکه لوړ چې یې بیان وسو، الله اکبر ووایاست او لاسونه پر سینه داسي کښېږدئ چې د راسته لاس ورغوئ د چپه لاس پر شا باندې وي.(۵۵) انجوني دې د هلکانو په رکم تر نامه لاندې لاسونه نه نیسي.(۵٦)

---

[۴۵]: المائده: ایت نمبر:۶.
[۴٦]: المدثر: ایت نمبر:۴.
[۴۷]: البقرة: ایت نمبر:۱۲۵ و فی سنن ابی داؤد: باب اتخاذ المساجدفی الدور، حدیث نمبر:۴۵۵-۴۵۶، ۱۰۳-۱۰۴مخونه.
[۴۸]: البقرة: ایت نمبر:۱۴۴.
[۴۹]: سنن ابوداؤد، کتاب الطهارت، باب المرأة تصلی بغیر خمار، حدیث نمبر:۶۴۱، ۱۴۰مخ.
[۵۰]: وهی فی الصلوة مکشوفة الرأس او نحوه فسترته بعمل قلیل قبل اداء رکن جازت.. الخ. کبیری: ۲۱۵مخ.
[۵۱]: کنز العمال: حروف الصاد، کتاب الصلاة، من قسم الاقوال، الباب الثانی فی احکام الصلاة ومفسداتها ومکملاتها، الفصل الثالث، حدیث نمبر: ۲۰۰۹۸، مخ.
[۵۲]: صحیح البخاری: باب یستقبل باطراف رجلیه القبلة. باب نمبر ۱۳۱، ۱۳۱مخ.
[۵۳]: سنن ابی داؤد: باب التشدید فی ذلک، حدیث نمبر: ۵۶۹-۵۷۱، ۱۲۷مخ.
[۵۴]: المصنف لابن ابی شیبه: باب فی المرأة اذا افتتحت الصلاة الی أین ترفع یدیها، حدیث نمبر:۲۴۸۶- ۲۴۹۰، ۴۲۱- ۴۲۲مخونه.
۵۵: صحیح المسلم: باب وضع یده الیمنی علی الیسری بعد تکبیرة الإحرام تحت صدره فوق سرته ووضعها فی السجود علی الأرض حذو منکبیه. حدیث نمبر: ۸۹۶، ۱۷۰مخ.
[۵٦]: السعایة: ۲ټوک، ۱۵۶مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د قيام (ولاړي) په حالت کي کوم شيان په پام کي ولرم؟

★که يوازي لمونځ کوئ نو اول سُبْحَانَکَ اللّٰهُمَّ،وروسته **تعوذ**( اعوذ بالله من الشيطٰن الرجيم) او **تسميه** (بسم الله الرحمٰن الرحيم)، بيا سورة فاتحه (الحمد لله) او وروسته يو بل سورت وواياست.(۵۷) او که په مو امام پسي لمونځ کوئ نو سُبْحَانَکَ اللّٰهُمَّ وواياست، پټه خوله سئ او د امام قرائت په توجه سره واورئ.(۵۸) که د امام قرائت په لوړ اواز نه وو نو بيله د ژبي د حرکت څخه، په زړه کي فقط د سورة فاتحه خوا ته توجه وکړئ.(۵۹) ددې سره بايد انجونو ته دا وروښوول سي چي که په جماعت لمونځ کوي نو دا په پام کي ونيسي چي لومړی بايد د نارينوو، پسې د هلکانو، وروسته د نرښځيانو او ورپسې د ښځو صفونه وي(۶۰) او هلکان بايد هيڅکله د خلکو سره په يوه صف کي و نه دريږي بلکه خامخا د هغوی تر شا ودريږي.(۶۱)په لمانځه د قرائت لپاره دا ضروري ده چي قرائت بايد د ژبي او شونډانو په حرکت سره وسي.(۶۲)

**تمرين:** د ماشومانو څخه په مختلف ډول پوښتني وکړئ او جوابونه ئې ښه ورپياد کړئ. مثلاً:د لمانځه نيت څنګه کيږي؟ آيا په خوله ويل ئې ضروري دي؟ تکبير تحريمه څه ته ويل کيږي؟ د تکبير تحريمه په وخت لاسونه څنګه پورته کيږي؟ لاسونه بايد چيري ونيول سي؟ څنګه بايد ونيول سي؟ انجوني بايد څنګه په جمعه سره لمونځ وکړي؟ آيا په امام پسي قرائت ويل کيږي؟ په يوازي لمانځه کي بايد قرائت څنګه وويل سي؟ (دغه هر سوال او جواب ليکلای هم سئ)ماشومانو ته وواياست چي دا عمل په مثالي شکل ستاسو په وړاندي اداء کړي او که کوم ځای غلط وي هغه ور اصلاح کړئ.


---

۵۷: صحيح المسلم: باب وجوب قراءة الفاتحة فى كل ركعة وإنه إذا لم يحسن الفاتحة ولا أمكنه تعلمها قرأ ما تيسر له من غيرها، حديث نمبر:۸۷۴- ۸۸۴، ۱۶۷-۱۶۸مخونه.
[۵۸]: الاعراف: ايت نمبر: ۲۰۴.
[۵۹]: صحيح المسلم: باب وجوب قراءة الفاتحة فى كل ركعة وإنه إذا لم يحسن الفاتحة ولا أمكنه تعلمها قرأ ما تيسر له من غيرها.، حديث نمبر:۸۸۴- ۸۷۴، ۱۶۷-۱۶۸مخونه.
[۶۰]: والسنة أن يصف الرجال ثم الصبيان ثم النساء الخ.الفقه الحنفى فى ثوب الجديد: ۱ټوک، ۲۶۸مخ.
۶۱: صحيح البخارى: باب وضوء الصبيان ومتى يجب عليهم الغسل والطهور وحضورهم الجماعة والعيدين والجنائز وصفوفهم.، حديث نمبر:۸۵۷، ۱۳۹مخ.
[۶۲]: المصنف لابن ابى شيبه: باب فى قراءة النهار كيف هى فى الصلاة، حديث نمبر:۳۶۷۷، ۳ټوک، ۲۴۶مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## تکبیرِ تحریمه

أَللّٰهُ أَكْبَرْ (٦٣)




[٦٣]:سنن الترمذی: باب ما جاء ان مفتاح الصلاة الطهور، حدیث نمبر:٣-۴، ٢مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ښه، په قیامه (ولاړه) کي څه شي ته پام وکړم؟

ماشومانو ته ئې ور زده کړئ: د سورة فاتحه په ویلو کي ښه طریقه دا ده چي پر هر آیت ودریږي او ساه واخلي، بیا بل آیت وو ایي، ځیني ځیني ایاتونه په یوه ساه وویل سي. مثلاً: پر اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ باندي ساه واخلي، بیا پر الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ باندي، بیا پر مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ باندي. دا رقم سورة فاتحه وویل سي.(٦۴) خو که تر سورة فاتحه وروسته سورت کي په یوه ساه تر یوه زیات ایاتونه وویل سي پروا نه لري. ★ بېله ضرورته د بدن اندامونو ته حرکت مه ورکوه، ولاړه چي څومره په ارامه وي هغومره ښه ده.(٦٥) دا کار د لمانځه د ادب څخه خلاف دئ چي د بدن ټوله زور پر یوه پښه وي او بله پښه همداسي ایله پرېښول چي انسان پر یوه بغل کوږ سي، ددې څخه ځان وساته. یا پر دواړو پښو برابره اندازه زور وکړئ یا پر یوه پښه داسي زور وسي چي هغه بله پښه کږه نه سي. ★که اربړمی درسي نو د دفع کولو (بندولو) کوښښ ئې وکړئ.(٦٦) د ولاړي په حالت کي باید نظر د سجدې پر ځای وي، یوې بلې خواته یا مخامخ کتل مه کوه.(٦٧)



**تمرين:** د ماشومانو څخه په مختلف ډول پوښتني وکړئ او جوابونه ئې ښه ورپیاد کړئ. مثلاً: ولاړه څنګه اداء کیږي؟ د سورة فاتحه ښه طریقه کومه ده؟ په لمانځه کي داسي درېدل چي ټول زور پر یوه پښه وي، څنګه کار دئ؟ که چا ته په لمانځه کي اربړمی ورسي نو باید څه وکړي؟ د ولاړي په حالت کي باید کوم ځای ته وکتل سي؟ (دغه هر سوال او جواب لیکلای هم سئ)ماشومانو ته وو ایاست چي دا عمل په مثالي شکل ستاسو په وړاندي اداء کړي او که کوم ځای غلط وي هغه ور اصلاح کړئ.

---

[٦٤]: سنن الترمذی: باب فی الفاتحة الکتاب، حدیث نمبر:۲۹۷۰، ۶۵۸مخ.
[٦٥] البقرة:آیت نمبر: ۲۳۸
[٦٦]: صحیح المسلم: باب تشمیت العاطس وکراهة التثاؤب، حدیث نمبر:۷۴۸۶- ۷۴۹۴، ۱۲۹۳- ۱۲۹۴مخونه.
[٦٧]: صحیح البخاری: باب الالتفات فی لاصلاة، حدیث نمبر:۷۵۱- ۷۵۲، ۱۲۲مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دا هم را وښيه چي د قيام په حالت کي ويل کيږي؟

### ﴿الثناء﴾

سُبْحَانَکَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِکَ وَتَبَارَکَ اسْمُکَ وَتَعَالٰی جَدُّکَ وَلَا اِلٰهَ غَيْرُکَ.(٦٨)

### ﴿سورة الفاتحة﴾

أَعُوْذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيطان الرَّجِيْمِ ★ بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ ★الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ★ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ★ مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ★ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ★ اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ★ صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِالْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلاالضَّالِّينَ(٦٩)

(آمين)

### ﴿سورة الكوثر﴾

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ★ إِنَّا أَعْطَيْنَا كَالْكَوْثَرَ★فَصَلِّ لِرَبِّك وَانْحَرْ★إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الأَبْتَرُ(٧٠)

### ﴿سورة الاخلاص﴾

قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ★اللَّهُ الصَّمَدُ★لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ★ وَلَمْ يَكُنْ لَهُ كُفُوًا أَحَدٌ(٧١)

ماشومانو ته ئې ور زده کړئ:ماشومانو ته د سم تلفظ سره ثناء، سورة فاتحه او نور سورتونه ور پياد کړئ. تر څو چي زوړ سبق ئې نه وي پياد کړئ نوی سبق مه ورکوئ. د يادولو يوه طريقه دا ده چي خپله لږ لږ وايا ست او ماشومان دي ئې درسره تکرار کړي، تر څو د ښه تلفظ سره ئې پياد سي. ★دا طريقه هر ځای په کار اچولای سئ. ماشومانو ته دا ور وښياست چي د لوړو دوو سورتونو بغير نور سورتونه يا د سورت دري اياتونه هم ويلای سئ.

**تمرين:** د ماشومانو څخه ثناء، سوره فاتحه او نور سورتونه په سم تلفظ واورئ او ددوی څخه وپوښتئ چي د ولاړي په حالت کي بايد څه وويل سي؟ او کوم ځای چي غلط وو هغه ور اصلاح کړئ.

٦٨: سنن الترمذی: باب ما يقول عند افتتاح الصلاة، حديث نمبر: ٢٤٢- ٢٤٣، ٦٧مخ.
٦٩: القرآن: الفاتحه، ١ پاره.
٧٠: القرآن: الكوثر، ٣٠مه پاره.
٧١: القرآن: الاخلاص، ٣٠مه پاره.


(c) ketabton.com: The Digital Library


## اوس نو رکوع څنګه آداء کړم

﴿رکوع ته د تګ په وخت کي [أَللّٰهُ أَکْبَر] ووايه﴾
[د رکوع په حالت دغه ووايه]

سُبْحَانَ رَبِّیَ الْعَظِيْم   سُبْحَانَ رَبِّیَ الْعَظِيْم   سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيْم(۷۲)

ماشومانو ته ئې ور زده کړئ: د انجونو لپاره د هلکانو په رقم ملا سیده کول ضروري نه دي بلکه د هلکانو پر خلاف دومره اندازه کږېدل کافي دي چي لاس تر زنګنو پوري ورسيږي.(۷۳) ماشومانو ته ور زده کړئ چي خپلي ګوتي پر زنګنو باندي کښېږدي. د ګوتو تر منځ بايد فاصله نه وي.(۷۴) په رکوع کي ټوله پښه مه سیده کوئ بلکه د زنګنو د مخ طرف يو څه کوږ کړئ.(۷۵) انجوني بايد داسي رکوع وکړي چي بازو ئې د بغلو يعني بدن سره موښتئ وي.(۷۶) لږ تر لږه رکوع دومره اوږده کړئ چي دري واره په ارامه سره سُبْحَانَ رَبِّیَ الْعَظِيْم پکښي وويل سي.(۷۷) په رکوع کي بايد د پښو خوا ته وکتل سي.(۷۸)



**تمرين:** د ماشومانو څخه په مختلف ډول پوښتني وکړئ او جوابونه ئې ښه ورپياد کړئ. مثلاً: رکوع څه ته وايي؟ رکوع بايد څنګه وسي؟ پښې بايد څنګه کښېښوول سي؟ په رکوع کي بايد لاسونه څنګه کښېښوول سي؟ لږ تر لږه بايد رکوع څومره اوږده سي؟ په رکوع کي بايد چيري وکتل سي؟ (دغه هر سوال او جواب ليکلای هم سئ)ماشومانو ته ووايا ست چي دا عمل په مثالي شکل ستاسو په وړاندي اداء کړي او که کوم ځای غلط وي هغه ور اصلاح کړئ.

---

[۷۲]: سنن ابی داؤد: باب ما یقول الرجل فی رکوعه وسجوده، حدیث نمبر:۸۶۹/۸۷۱/۸۷۴، ۱۸۴-۱۸۵مخ.
[۷۳]: المصنف لابن ابی شیبه: باب فی ادنی ما یجزئ من رکوع وسجود، حدیث نمبر: ۲۵۹۲/ ۲۵۹۳/ ۲۵۹۴/ ۲۵۹۶/ ۲۵۹۹/ ۲۶۰۰، ۲ټوک، ۴۵۲-۴۵۴مخونه.
[۷۴]: المصنف لابن ابی شیبه: باب فی المراة کیف تکون فی سجودها، حدیث نمبر: ۲۷۹۳،۵۰۴ مخ.
[۷۵]: المصنف لابن ابی شیبه: باب فی ادنی ما یجزیء من رکوع وسجود، حدیث نمبر:۵۹۲، ۲ټوک ۴۵۲مخ.
[۷۶]: المصنف لابن ابی شیبه: باب فی ادنی ما یجزیء من رکوع وسجود، حدیث نمبر:۵۹۲، ۲ټوک ۴۵۲مخ.
[۷۷]: سنن الترمذی: باب ما جاء فی التسبیح فی الرکوع والسجود، حدیث نمبر:۲۶۱، ۷۲مخ.
[۷۸]:ولها اداب.... والی ظهر قدمیه حال رکوعه. الدرالمختار: کتاب الصلاة، ۲ټوک، ۲۱۴مخ

(c) ketabton.com: The Digital Library




## په قومه کي باید څه وویل سي؟

سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَه(۷۹)

(که دي په امام پسي اقتداء کړې وه نو دا ووایه)

رَبَّنَا لَکَ الْحَمْد(۸۰)

ماشومانو ته ئې ور زده کړئ:د رکوع څخه تر پورته کېدلو وروسته ولاړه باید دومره سیده وسي چي هیڅ کږوالئ پاته نه سي. (۸۱) په دغه حالت کي هم باید د سجدې ځای ته وکتل سي(۸۲) ځیني ښځي د راپورته کېدلو پر وخت د درېدلو پر ځای په داسي حالت کي رکوع ته ځي چي ملا ئې لا هم کږه وي، دا طریقه غلطه ده مکمل ځان ورڅخه وساتئ. تر هغو چي ښه ارام درېدلي نه یاست سجدې ته مه ځئ. (۸۳) ماشومانو ته ور زده کړئ چي سجدې ته د تللو په وخت کي اول سینه کښته کړي.(۸۴) تر زنګنو وروسته اول باید لاسونه پر مځکه کښېښوول سي بیا پزه او تندی.(۸۵)



**تمرین:** د ماشومانو څخه په مختلف ډول پوښتني وکړئ او جوابونه ئې ښه ورپیاد کړئ. مثلاً: قومه څه ته وایي؟ د رکوع څخه د راپورته کېدلو په وخت کي د سیده درېدلو پر ځای داغه سي په کږه ملا سجدې ته تلل څنګه کار دئ؟ صحیح طریقه ئې کومه ده؟ (دغه هر سوال او جواب لیکلای هم سئ) ماشومانو ته وواياست چي دا عمل په مثالي شکل ستاسو په وړاندي اداء کړي او که کوم ځای غلط وي هغه ور اصلاح کړئ.

---

۷۹: صحیح البخاري: باب ما یقول الامام ومن خلفه اذا رفع رأسه من الرکوع، حدیث نمبر:۷۹۵، ۱۲۹مخ.

۸۰: صحیح البخاري: باب فضل اللهم ربنا لک الحمد، حدیث نمبر:۷۹۵، ۱۲۹مخ.

۸۱: صحیح البخاری: باب امر النبی صلی الله علیه وسلم الذی لا یتم رکوعه بالاعادة، حدیث نمبر:۷۹۳، ۱۲۸مخ.

۸۲: ولها اداب.... نظره الی موضع سجوده حال قیامه. (الدرالمختار: کتاب الصلاة، ۲ټوک، ۲۱۴مخ)

۸۳: صحیح البخاري: باب ما یقول الامام ومن خلفه اذا رفع رأسه من الرکوع، حدیث نمبر:۷۹۵، ۱۲۹مخ.

۸۴: الصنف: لابن ابی شیبه: باب فی المراة کیف تکون فی سجودها، حدیث نمبر:۲۷۹۳، ۵۰۴مخ.

۸۵: سنن الترمذی: باب ما جاء فی وضع الیدین ونصب القدمین، حدیث نمبر:۲۷۷، ۷۶مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## سجده هم را زده کړه

﴿په سجده کي دا ووايه﴾

سُبْحَانَ رَبِّیَ الْاَعْلٰی سُبْحَانَ رَبِّیَ الْاَعْلٰی سُبْحَانَ رَبِّیَ الْاَعْلٰی(٨٦)

ماشومانو ته ئې ورزده کړئ: ★ په سجده کي سر د دوو لاسو په منځ کي داسي کښېږدي چي دواړي بټي ګوتي د غوږ د نرميو سره برابري سي.(٨٧) په سجده کي بايد د لاسو ګوتي سره موښتي وي، يعني يو ځای وي او تر منځ ئې فاصله نه وي.(٨٨) د ګوتو مخ بايد د قبلې طرف ته وي. (٨٩) په سجده کي به د انجونو مکلمل لاس د ښنګلو سره پر مځکه وي.(٩٠) ماشومانو ته ورزده کړئ چي انجوني بايد سجده داسي وکړي چي نس ئې د ورنو سره موښتئ وي او بازوګان ئې په بغل پوري موښتي وي.(٩١) په ټوله سجده کي بايد پزه پر مځکه پوري موښتې وي له مځکي څخه پورته نه سي.(٩٢) ماشومانو ته وښياست چي انجوني بايد پر خپل چپه اړخ کښيني او د پښو دواړي خپړي راسته خوا ته وباسي او يو څه ئې ليري کړي.(٩٣) دا خبره په ياد ولرئ چي د سجدې په وخت کي بايد پښې له مځکي څخه پورته نه سي.(٩۴) سجده بايد لږ تر لږه دومره قدر اوږده سي چي درې واره سُبْحَانَ رَبِّیَ الْاَعْلٰی په ښه ارامه سره وويل سي.فقط تندی لګول او بيرته ژر پورته کول منع دي. (٩٥)



**تمرين:** د ماشومانو څخه په مختلف ډول پوښتني وکړئ او جوابونه ئې ښه ورپياد کړئ. مثلاً: سجده څه ته ويل کيږي؟ په سجده کي بايد سر، لاس او بازو څنګه ونيول سي؟ آيا ورنونه بايد د نس سره وموښلول سي؟ په سجده کي بايد د پښو خپړي څنګه کښېښوول سي؟ سجده بايد لږ تر لږه په څونه وخت کي وسي؟ (دغه هر سوال او جواب ليکلای هم سئ)ماشومانو ته وواياست چي دا عمل په مثالي شکل ستاسو په وړاندي اداء کړي او که کوم ځای غلط وي هغه ور اصلاح کړئ.

---

٨٦: سنن ابی داؤد: باب ما يقول الرجل فی الركوعه وسجوده، حديث نمبر:٨٦٩/٨٧١٨٧۴، ١٨۴- ١٨٥مخونه.
٨٧: سنن الترمذی: باب ما جاء اين يضع الرجل وجهه اذا سجد، حديث نمبر: ٢٧١، ٧٥مخ.
٨٨: صحيح البخاری: باب سنة الجلوس فی التشهد، حديث نمبر: ٨٢٨، ١٣۴مخ.
٨٩: صحيح البخاری: باب سنة الجلوس فی التشهد، حديث نمبر: ٨٢٨، ١٣۴مخ.
٩٠: المصنف لابن ابی شيبه: باب فی المراة كيف تكون فی سجودها، حديث نمبر: ٢٧٩٣-٢٧٩٨، ٥٠۴- ٥٠٥مخونه.
٩١: المصنف لابن ابی شيبه: باب فی ادنی ما يجزیء فی ادنی من الركوع والسجود،
٩٢: صحيح البخاری: باب السجود علی الانف، حديث نمبر: ٨١٢، ١٣٢مخ.
٩٣: المصنف لابن ابی شيبه: باب فی المراة كيف تجلس فی الصلاة، حديث نمبر: ٢٨٠٧، ٥٠٨مخ.
٩۴: صحيح البخاری: باب السجود علی الانف، حديث نمبر: ٨١٢، ١٣٢مخ.
٩٥: سنن الترمذی: باب ما جاء فی التسبيح فی الركوع والسجود، حديث نمبر: ٢٦١، ٧٢مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جلسه څنګه وکړم؟

(تر دې وروسته (اَللّٰهُ اَكْبَر) ووايه او جلسه وکړه او په جلسه کي دا دعاء کېدلای سي)

أَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ وَارْحَمْنِيْ وَارْفَعْنِيْ وَاجْبُرْنِيْ وَعَافِنِيْ وَاهْدِنِيْ وَارزُقْنِيْ(۹۶)

ماشومانو ته ئې ور زده کړئ: د يوې سجدې څخه تر پورته کېدلو وروسته د التحياتُ په رقم سيده کښېنئ بيا دوهمه سجده وکړئ. مازې سر پورته کول چي ملا سمه سيده نه سي او بيا بلې سجدې ته تلل ګناه لري.(۹۷) په سجده کي يا په التحياتُ کي چي کله کښېنئ نو پر چپه اړخ (کوناټي) به کښېنئ او د پښو دواړې خپړې راسته خوا ته يو څه ليرې کړئ او ورنونه يو د بل سره ومونښلوئ.(۹۸) په ناسته کي بايد دواړه لاسونه پر ورنو باندي کښېښوول سي او د ګوتو سرونه داسي وي چي د زنګانه تر سر پوري ورسيږي.(۹۹) د ناستي په وخت کي بايد خپلي سينې ته وکتل سي.(۱۰۰) ناسته بايد لږ تر لږه دونه اندازه وسي چي په څونه وخت کي يو وار سُبْحَانَ اللهِ ويل کيږي.(۱۰۱) او که دونه اندازه ناسته وسي چي په هغه کي أَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ وَارْحَمْنِيْ وَارْفَعْنِيْ وَاجْبُرْنِيْ وَعَافِنِيْ وَاهْدِنِيْ وَارزُقْنِيْ ويل کېدای سي او په نفلي لمنځونو کي ئې ويل نور هم ښه کار دئ.



تمرين: د ماشومانو څخه په مختلف ډول پوښتني وکړئ او جوابونه ئې ښه ورپياد کړئ. مثلاً: جلسه څه ته ويل کيږي؟ د يوې سجدې څخه د راپورته کېدلو په وخت کي چي سمه ناسته و نه سي او بلې سجدې ته تګ څنګه کار دئ؟ په جلسه کي بايد دواړه لاسونه څنګه کښېښوول سي؟ په جلسه کي بايد چيري وکتل سي؟ په جلسه کي کومه دعاء غوښتل ښه کار دئ؟ (دغه هر سوال او جواب ليکلای هم سئ) ماشومانو ته ووايا ست چي دا عمل په مثالي شکل ستاسو په وړاندي اداء کړي او که کوم ځای غلط وي هغه ور اصلاح کړئ.

---

۹۶: سنن الترمذى: باب ما يقول بين السجدتين، حديث نمبر۲۸۴- ۲۸۵، ۷۷مخ.

۹۷: صحيح البخارى:باب امر النبى صلى الله عليه وسلم الذى لايتم ركوعه بالاعادة، حديث نمبر:۷۹۳، ۱۲۸مخ.

۹۸: المصنف لابن ابى شيبه: باب فى المراة كيف تجلس فى الصلاة، حديث نمبر: ۲۸۰۷، ۵۰۸مخ

۹۹: صحيح المسلم: باب صفة الجلوس فى الصلاة وكيفية الوضع اليدين على فخذين، حديث نمبر: ۱۳۰۷- ۱۳۱۱، ۲۳۵- ۲۳۶مخونه.

۱۰۰: ولها اداب.... والى حجره حال قعوده. الدرالمختار: كتاب الصلاة، ۲ټوک، ۲۱۴مخ.

۱۰۱: صحيح البخارى:باب امر النبى صلى الله عليه وسلم الذى لايتم ركوعه بالاعادة، حديث نمبر:۷۹۳، ۱۲۸مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوهمي سجدې ته څنګه ولاړه سم؟ او وروسې رکعت څنګه شروع کړم؟

﴿[اَللّٰهُ اَكْبَر]وو ایه او سجدې ته ولاړ سه او په سجده کي دا وو ایه﴾

سُبْحَانَ رَبِّيَ الْاَعْلٰى　　سُبْحَانَ رَبِّيَ الْاَعْلٰى　　سُبْحَانَ رَبِّيَ الْاَعْلٰى

ماشومانو ته ئې ور زده کړئ: ★ دوهمي سجدې ته هم داسي ولاړه سه چي لاسونه پر مځکه کښېږدې بیا پزه او بیا تندی ★ په سجده کي باید هغه کارونه وسي چي مخکي بیان سول ★ د سجدې څخه د راپورته کېدلو په وخت کي اول باید تندی د مځکي څخه راپورته کړل سي بیا پزه بیا لاسونه او بیا زنګنونه. (۱۰۲) د راپورته کېدلو په وخت کي پر مځکه لاس لګول ښه نه دي.(۱۰۳) د راپورته کېدلو وروسته د هر رکعت په شروع او تر سورة فاتحه یعني الحمدلله مخکي بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ وو ایاست بیا سورة فاتحه او بیا د قرآن کریم یو سورت. (۱۰۴) د مثال په توګه په اول رکعت کي مو سورة کوثر (اِنَّآ اَعطَینٰاکَ الکَوثَر) ویلئ وو نو په دوهم رکعت کي سورة اخلاص (قُل هُوَ اللّٰهُ اَحَد) وو ایاست.



**تمرین:** د ماشومانو څخه په مختلف ډول پوښتني وکړئ او جوابونه ئې ښه ورپیاد کړئ. مثلاً: دوهمي سجدې ته باید څنګه ولاړ سي؟ د سجدې څخه باید څنګه راپورته سي؟ تر اول رکعت وروسته دوهم رکعت باید څنګه اداء سي؟ (دغه هر سوال او جواب لیکلای هم سئ)ماشومانو ته وو ایاست چي دا عمل په مثالي شکل ستاسو په وړاندي اداء کړي او که کوم ځای غلط وي هغه ور اصلاح کړئ.

---

[۱۰۲]: صحیح المسلم: باب صفة الجلوس فی الصلاة وکیفیة الوضع الیدین علی فخذین، حدیث نمبر: ۱۳۰۷، ۲۳۵مخ.

[۱۰۳]: سنن ابی داؤد: باب فی کراهیة الاعتماد علی الید فی الصلاة، حدیث نمبر: ۹۹۲، ۲۰۷ و ۹۹۴، ۲۰۸مخ.

۱۰۴: صحیح المسلم: باب ما یقال بین تکبیرة الإحرام والقراءة. حدیث نمبر:۱۳۵۶، ۲۴۳مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## ښه، اوس نو د قعدې په بازه کي هم څه را ته ووايه؟

﴿اوس [اَللّٰهُ اَکبَر] ووايه او د تشهد د پاره کښېنه﴾

ماشومانو ته ئې ور زده کړئ:د قعدې دپاره ناسته هغه رقم ده لکه د دوو سجدو په منځ کي ناسته چي مخکي ئې بيان وسو★ د التحياتُ د ويلو پر وخت چي کله أَشْهَدُ أَنْ لَّا اِلٰه ته ورسېږي نو د شهادت ګوته دي لوړې خوا ته پورته کړي او پر اِلَّا الله دي ئې بيرته کښته کړي. (۱۰۵)د اشارې کولو ښه طريقه دا ده چي د ماينځ ګوته او بټه ګوته د کړۍ په شکل سره وموښلوي او تر ټولو کوچنۍ يعني خمچه ګوته او ددې برابره ګوته بندي سي (۱۰٦)او د شهادت ګوته دا سې پورته سي چي د قبلې طرف ته کږه وي.(۱۰۷)که تر دې ځايه هم لمونځ پوره سوئ نه وي مثلاً د ماښام، ماخوستن يا وتر لمونځ وي نو تر التحياتُ وروسته پورته سئ (بِسمِ الله) ووايا ست بيا سورة فاتحه يا د قرآن کريم يو بل سورت هم ووايا ست او په قعده کي چي څه ويل کيږي هغه به په را روانو سبقانو کي دروښيو. (ان شاء الله)



**تمرين:**د ماشومانو څخه په مختلف ډول پوښتني وکړئ او جوابونه ئې ښه ورپياد کړئ. مثلاً: قعده څه ته وايي؟ په التحياتُ کي بايد د شهادت په ګوته څنګه اشاره وسي؟ (دغه هر سوال او جواب ليکلای هم سئ)ماشومانو ته ووايا ست چي دا عمل په مثالي شکل ستاسو په وړاندي اداء کړي او که کوم ځای غلط وي هغه ور اصلاح کړئ.

---

[۱۰۵]: صحيح المسلم: باب صفة الجلوس فى الصلاة وكيفية وضع اليدين على الفخذين، حديث نمبر: ۳۱۰۷- ۱۳۱۲، ۲۳۵- ۲۳٦مخونه. انه يرفع الاصبع عند النفى ويضعها عند الاثبات. كبيرى:۳۲۸مخ.

۱۰٦: سنن النسائى: باب قبض الثنتين من أصابع اليد اليمنى وعقد الوسطى والإبهام منها، حديث نمبر: ۱۲٦۸، ۱۷٦مخ.

۱۰۷: سنن النسائى: باب إحناء السبابة في الإشارة، حديث نمبر: ۱۲۷۵، ۱۷۷مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## اوس خو به هغه څه رازده کړو، چي د تشهد په حالت کي ويل کيږي؟

﴿په تشهد کي دا ويل کيږي﴾

### {التشهد}

التَّحِيَّاتُ لِلَّهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ السَّلاَمُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحْمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ السَّلاَمُ عَلَيْنَا ، وَعَلَى عِبَادِ اللهِ الصَّالِحِينَ أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ(١٠٨)

### درود شريف (الصلوة على محمد ﷺ)

اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ ، وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ ، وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ اللَّهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ ، وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ ، وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ.(١٠٩)

### (الدعاء)

❖ رَبِّ اجْعَلْنِي مُقِيمَ الصَّلاَةِ وَمِن ذُرِّيَّتِي رَبَّنَا وَتَقَبَّلْ دُعَاء★رَبَّنَا اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ وَلِلْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ يَقُومُ الْحِسَابُ. (١١٠)

❖ رَبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيرًا(١١١)

❖ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ(١١٢)

ماشومانو ته ئې ورزده کړئ: ماشومانو ته التحياتُ، درود شريف او دعاوي په صحيح تلفظ ورپياد کړئ.

**يادونه** : ترڅو چي ئې پخوانى درس ياد کړئ نه وي وړاندي سبق مه ورته وايا ست.

**تمرين:** د ماشومانو څخه زباني التحياتُ، درودشريف او دعاوى په صحيح تلفظ سره واورئ او که کوم ځاى غلط وي هغه ور اصلاح کړئ.

---

١٠٨: صحيح البخارى: باب ما يتخير من الدعاء بعد التشهد وليس بواجب، حديث نمبر:٨٣٥، ١٣٥مخ.
١٠٩: صحيح البخارى: باب ما يتخير من الدعاء بعد التشهد وليس بواجب، حديث نمبر:٨٣٥، ١٣٥مخ.
١١٠: الابراهيم: ٤٠-٤١.
١١١: الاسراء: ٢٤.
١١٢: البقرة: ٢٠١.


(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لمانځه د پای ته رسولو د پاره باید څنګه سلام وګرځول سي؟

اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ          اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ (۱۱۳)

ماشومانو ته ئې ور زده کړئ: دواړو خواوو ته د سلام ګرځولو پر وخت باید مخ دومره وګرځول سي چي شاته ناست نفر ستاسو باړخو ووويني. (۱۱۴) کله چي راسته خوا ته مخ وګرځوې او السلام عليكم ورحمة الله ووايې نو نيت دا وکړه چي پر راسته طرف کوم انسانان او ملائکه دي هغو ته سلام کوې او پر چپه خوا سلام ګرځولو کي دا نيت وکړه چي پر چپه طرف موجودو انسانانو او ملائکوو ته سلام کوې. (۱۱۵)



**تمرين:** د ماشومانو څخه په مختلف ډول پوښتني وکړئ او جوابونه ئې ښه ورپياد کړئ. مثلاً: د سلام ګرځولو پر وخت باید غاړه څومره وګرځي؟ د سلام ګرځولو پر وخت باید چيري وکتل سي؟ د اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ د ويلو پر وخت باید کوم نيت وسي؟ (دغه هر سوال او جواب ليکلای هم سئ) ماشومانو ته وواياست چي دا عمل په مثالي شکل ستاسو په وړاندي اداء کړي او که کوم ځای غلط وي هغه ور اصلاح کړئ.

---

۱۱۳: سنن الترمذی: باب ماجاء في التسليم في الصلاة، حديث نمبر: ۲۹۵، ۷۹مخ.

۱۱۴: صحيح المسلم: باب السلام للتحليل من الصلاة عند فراغها وكيفيته، حديث نمبر: ۱۳۱۳- ۱۳۱۵، ۲۳۶مخ.

۱۱۵: ونوى بالتسليم الاولى من على يمينه من الرجال والنساء والحفظة وكذلک فى الثانية. (الهداية: كتاب الصلاة، باب صفة الصلاة، ۱۰۴مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library




## تر لمانځه وروسته دعاء هم را زده کړه

❖ أَسْتَغفِرُ الله، أَسْتَغفِرُ الله، أَسْتَغفِرُ الله (١١٦)

❖ اللَّهُمَّ أَنْتَ السَّلاَمُ وَمِنْكَ السَّلاَمُ تَبَارَكْتَ يَا ذَا الْجَلاَلِ وَالإِكْرَامِ.(١١٧)

❖ اللَّهُمَّ أَعِنِّي عَلَى ذِكْرِكَ وَشُكْرِكَ وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ(١١٨)

ماشومانو ته ئې ور زده کړئ: د دعاء طریقه دواړه لاسونه د سینې تر برابرې پورې پورته سي. (۱۱۹) د دعاء پر وخت باید د لاسو دننني برخه (راسته خوا) مخ ته برابره سي. (۱۲۰) د دعاء په ختمېدلو سره باید لاسونه پر مخ تېر سي. (۱۲۱) ماشومانو ته دغه دعاوي د صحیح تلفظ سره ورپیاد کړئ ★ ماشومانو ته ور زده کړئ چي په هره ژبه دعاء کولای سئ.



**تمرین:** د ماشومانو څخه په مختلف ډول پوښتني وکړئ او جوابونه ئې ښه ورپیاد کړئ. مثلاً: د دعاء دپاره باید لاسونه څومره قدر پورته سي؟ آیا د لاسو تر منځ باید فاصله وي؟ فاصله باید څومره وي؟ آیا په خپله ژبه هم دعاء کولای سو؟ (دغه هر سوال او جواب لیکلای هم سئ) ماشومانو ته وو ایاست چي دا عمل په مثالي شکل ستاسو په وړاندي اداء کړي او که کوم ځای غلط وي هغه ور اصلاح کړئ.

---

[116]: صحیح مسلم: باب استحباب الذکر بعد الصلوة وبیان صفته، حدیث نمبر: ۱۳۶۲، مخ.
۱۱۷: سنن ابی داؤد: باب ما یقول الرجل إذا سلم، حدیث نمبر: ۱۵۱۲، ۳۱۰مخ.
۱۱۸: سنن ابی داؤد: باب فی الاستغفار، حدیث نمبر: ۱۵۲۲، ۳۱۲مخ.
۱۱۹: صحیح البخاری: باب رفع الأیدي في الصلاة لأمر ینزل به، حدیث نمبر:۱۲۱۸، ۱۹۴مخ.
[120]: سنن ابی داؤد: باب الدعاء، حدیث نمبر:۱۴۸۵- ۱۴۸۶، ۳۰۵مخ.
[121]: سنن ابی داؤد: باب الدعاء، حدیث نمبر: ۱۴۹۲/۱۴۸۵، ۳۰۵-۳۰۶مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## تاسو دا هم و نه ویل، چي د وترو دعاء کومه ده او څه وخت ویل کیږي؟

## (القنوت)

اللَّهُمَّ إنَّا نَسْتَعِينُك وَنَسْتَغْفِرُك ونُؤمِنُ بِکَ وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْکَ وَنُثْنِي عَلَيْك الخير، وَلا نَكْفُرُك وَنَخْلَعُ وَنَتْرُكُ مَنْ يَفْجُرُكَ اللَّهُمَّ إيَّاكَ نَعْبُدُ وَلَك نُصَلِّي وَنَسْجُدُ وَإلَيْك نَسْعَى وَنَحْفِدُ وَنَرْجُو رَحْمَتَكَ وَنَخْشَى عَذَابَك إنَّ عَذَابَكَ بِالْكُفَّارِ مُلْحَقٌ. (۱۲۲)

| ما ته د لمانځه رکعتونه هم را زده کړه | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| لمونځ | غیر مؤکد سنت تر لمانځه مخکي | مؤکد سنت تر لمانځه مخکي | فرض | سنت مؤکد تر فرضو وروسته | نفل | وتر | نفل | مجموعه رکعتونه | حوالې |
| سهار | — | ۲ | ۲ | — | — | — | — | ۴ | ۱۲۳، ۱۲۴ |
| ماپښین | — | ۴ | ۴ | ۲ | ۲ | — | — | ۱۲ | ۱۲۵، ۱۲۶، ۱۲۷، ۱۲۸ |
| ماځیګر | ۴ | — | ۴ | — | — | — | — | ۸ | ۱۲۹، ۱۳۰ |
| ماښام | — | — | ۳ | ۲ | ۲ | — | — | ۷ | ۱۳۱، ۱۳۲، ۱۳۳ |
| عشاء | ۴ | — | ۴ | ۲ | ۲ | ۳ | ۲ | ۱۷ | ۱۳۴، ۱۳۵، ۱۳۶، ۱۳۷، ۱۳۸ |
| جمعه مبارکه | — | ۴ | ۲ | ۴+۲ | ۲ | — | — | ۱۴ | ۱۳۹، ۱۴۰، ۱۴۱، ۱۴۲ |

ماشومانو ته ئې ور زده کړئ: د وترو په دریم رکعت کي دعاء قنوت ویل کیږي.

**تشریح:** د وترو په آخري رکعت کي تر سورة فاتحه او یو بل قرآني سورة وروسته لاسونه پورته کړه او تکبیر وو ایه. (۱۴۳) بیا پورتنۍ دعاء وو ایه. (۱۴۴)

**یادونه:** ماشومانو ته په صحیح تلفظ سره دعاء قنوت ور پیاد کړئ.

**تمرین:** د ماشومانو څخه په صحیح تلفظ سره دعاء قنوت واورئ او تر څو چي ئې پیاد کړئ نه وي نوی سبق مه ورکوئ. د ماشومانو څخه د ټولو لمنځونو د رکعتو د تعداد پوښتنه وکړئ. ماشومان وپوښتئ چي تاسو ته د دوو، درو او څلورو رکعتونو لرونکي لمانځه طریقه وو ایي او د زده کړي لپاره عملي لمونځ ورباندي اداء کړئ او که کوم ځای غلطي ولري هغه ور وبنیاست او صحیح طریقه ئې هم ور زده کړئ.

---

۱۲۲: المصنف لابن ابی شیبه: کتاب الدعاء، باب ما یدعو به فی القنوت، حدیث نمبر:۳۰۳۳۴، ۱۵ټوک، ۳۴۲مخ.
۱۲۳: صحیح البخاری: باب المداومة علی رکعتی الفجر، حدیث نمبر:۱۱۵۹، ۱۸۵مخ.
۱۲۴: سنن البیهقي الکبری: باب عدد رکعات الصلوات الخمس، حدیث نمبر: ۱۶۹۴،۱ټوک، ۶۷۸ مخ.
۱۲۵: صحیح المسلم: باب جواز النافلة قائما وقاعدا وفعل بعض الرکعة قائما وبعضها قاعدا، حدیث نمبر:۱۶۹۹، ۲۹۶مخ.
۱۲۶: سنن البیهقي الکبری: باب عدد رکعات الصلوات الخمس، حدیث نمبر: ۱۶۹۴،۱ټوک، ۶۷۸ مخ.
۱۲۷: صحیح المسلم: باب جواز النافلة قائما وقاعدا وفعل بعض الرکعة قائما وبعضها قاعدا، حدیث نمبر:۱۶۹۹، ۲۹۶مخ.
۱۲۸: سنن الترمذی:باب (منه) آخر، حدیث نمبر: ۴۲۷، ۱۱۵مخ.
۱۲۹: سنن الترمذی: باب ما جاء في الأربع قبل العصر، حدیث نمبر:۴۲۹-۴۳۰، ۱۱۶مخ.
۱۳۰: سنن البیهقي الکبری: باب عدد رکعات الصلوات الخمس، حدیث نمبر: ۱۶۹۴،۱ټوک، ۶۷۸ مخ.
۱۳۱: سنن البیهقي الکبری: باب عدد رکعات الصلوات الخمس، حدیث نمبر: ۱۶۹۴،۱ټوک، ۶۷۸ مخ.
۱۳۲: صحیح المسلم: باب جواز النافلة قائما وقاعدا وفعل بعض الرکعة قائما وبعضها قاعدا، حدیث نمبر:۱۶۹۹، ۲۹۶مخ.
۱۳۳: المصنف لابن ابی شیبه: في ثواب الرکعتین بعد المغرب.، حدیث نمبر:۵۹۸۶،
۱۳۴: مختصر قیام اللیل للمروزی: باب یصلی بین المغرب والعشاء اربع رکعات. ۸۵مخ.
۱۳۵: سنن البیهقي الکبری: باب عدد رکعات الصلوات الخمس، حدیث نمبر: ۱۶۹۴،۱ټوک، ۶۷۸ مخ.
۱۳۶: صحیح المسلم: باب جواز النافلة قائما وقاعدا وفعل بعض الرکعة قائما وبعضها قاعدا، حدیث نمبر:۱۶۹۹، ۲۹۶مخ.
۱۳۷: سنن ابی داؤد: باب الصلاة بعد العشاء، حدیث نمبر:۱۳۰۱، ۲۶۹مخ.
۱۳۸: جامع الترمذی: ابواب الوتر، باب لا وتر فی لیلة، حدیث نمبر: ۴۷۱، مخ.
۱۳۹: سنن ابن ماجه: باب ما جاء فی الصلاة قبل الجمعة، حدیث نمبر: ۱۱۲۹، ۱۹۵مخ.
۱۴۰: سنن النسائی: کتاب الجمعة، باب عدد الصلاة الجمعة، حدیث نمبر: ۱۴۲۱، ۲۰۵مخ.
۱۴۱: شرح معانی الآثار: کتاب الصلوة، باب التطوع بعد الجمعة کیف هو، حدیث نمبر: ۱۹۷۸، مخ.
۱۴۲: صحیح مسلم: الجمعة، باب الصلاة بعد الجمعة، حدیث نمبر: ۲۰۷۸، مخ.
۱۴۳: المصنف لابن ابی شیبه:باب فی رفع الیدین فی قنوت الوتر، حدیث نمبر: ۷۰۲۶-۷۰۲۸، ۵۳۱مخ.
۱۴۴: فتح الباری لابن حجر العسقلانی:باب القنوت قبل الرکوع او بعده، حدیث نمبر:۱۰۰۱-۱۰۰۲، ۶۲۱مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د لمانځه او لمانځه اړوند مسنوني دعاګاني

الله تعالى په قرآن كريم كي فرمايي: (وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ) البقرة: ۱۸۶. (او كله چي پوښتنه وكړي ستا څخه بنده ګان زما (د ليري والي او نژدېوالي زما) نو ته ورته وو وايه زه نژدې يم، د دعاء كوونكئ سوال قبلوم كله چي ئې هغه زما څخه وغواړي)

حضرت انس بن مالك ﷺ فرمايي، نبي كريم ﷺ فرمايلي: ((الدعاء مخ العبادة)) (دعاء د عبادت مغز او بنياد دئ) (رواه الترمذى، باب منه الدعاء مخ العبادة، رقم: ۳۳۷۱)

## تر آذان وروسته دعاء

اللَّهُمَّ رَبَّ هَذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ وَالصَّلاَةِ الْقَائِمَةِ آتِ مُحَمَّدًا الْوَسِيلَةَ وَالْفَضِيلَةَ وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَحْمُودًا الَّذِي وَعَدْتَهُ.

يا الله! ددې كامل دعوت او لمانځه ربه! ته محمد ﷺ وسيله او فضيلت وركړې او هغه ته هغه مقام محمود وركړې چي تا ورسره وعده كړې.

رواه البخارى فى كتاب الاذان (۵۷۹) والترمذى فى كتاب الصلاة (۱۹۵) والنسائى فى كتاب الاذان (۶۷۳)، وابوداؤد فى كتاب الصلاة (۴۴۵) وابن ماجه فى كتاب الاذان والسنة فيه (۷۱۴) واحمد فى باقى مسند المكثرين (۱۴۲۸۹)

## تر اوداسه وروسته دعاء

أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ اللّهُمَّ اجْعَلْنِيْ مِنَ التَّوَابِيْنَ وَاجْعَلْنِي مِنَ الْمُتَطَهِّرِيْنَ

ژباړه: زه شاهدي وركوم چي د الله تعالى څخه ماسوا بل د عبادت لائق نشته، هغه يو دئ شريک نه لري او زه شاهدي وركوم چي محمد صلى الله عليه وسلم د الله تعالى بنده او د هغه رسول دئ. يا الله! ما په زيات توبه كوونكو او زيات پاكي كوونكو كي شامل كړې.

## مسجد ته د داخل كيدلو دعاء

اللَّهُمَّ افْتَحْ لِي أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ

ژباړه: يا الله! ما ته د خپل رحمت دروازې را خلاصي كړه.

## د مسجد څخه د راوتلو دعاء

اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ

ژباړه: يا الله! زه ستا څخه ستا د فضل خواست كوم.

رواه مسلم فى كتاب صلاة المسافرين وقصرها (۱۱۶۵) والنسائى فى كتاب المساجد (۷۲)، وابوداؤد فى كتاب الصلاة (۳۹۳)، وابن ماجه فى كتاب المساجد والجماعات (۷۶۴)، واحمد (۱۵۴۷۷) والدارمى فى كتاب الصلاة (۱۳۵۸)

(c) ketabton.com: The Digital Library


## تر فرض لمانځه وروسته دعاګاني

أَللّٰهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ وَمِنْكَ السَّلَامُ تَبَارَكْتَ ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ[145]

ژباړه: يا الله! ته سلام ئې او ستا څخه سلامتيا ترلاسه کيږي، اې د عزت او بزرګۍ خاونده ستا ذات برکتناکه دئ.

أَللّٰهُمَّ أَعِنِّيْ عَلَى ذِكْرِكَ وَشُكْرِكَ وَحُسْنِ عِبَادَتِكَ[146]

يا الله! ستا په ذکر، ستا په شکر او ستا په ښه عبادت کولو کي زما کومک وکړه.

## نبي کريم عليه السلام چي به کله سلام وګرځوئ نو دا دعاء به يې کول

اللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِی مَا قَدَّمْتُ وَمَا أَخَّرْتُ وَمَا أَسْرَرْتُ وَمَا أَعْلَنْتُ وَمَا أَسْرَفْتُ وَمَا أَنْتَ أَعْلَمُ بِهِ مِنِّی أَنْتَ الْمُقَدِّمُ وَالْمُؤَخِّرُ لَا إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ

ژباړه: يا الله! زما مخکني، وروستني، پټ او ښکاره ګناهونه را معاف کړې او زما خطاوي را معاف کړې او هغه ګناهونه هم را معاف کړې چي ته تر ما ډېر په خبر ئې، ته مقدم ئې، ته مؤخر ئې ستا څخه بغير بل د عبادت لائق نسته.

سنن ابی داؤد، کتاب الصلاة، باب ما يستفتح به الصلاة من الدعاء، رقم الحديث: ۶۴۹

## نبي کريم ﷺ چي به تر لمانځه وروسته راسته لاس پر سر مبارک کښېښووئ او دا دعاء به ئې ويل

بِسْمِ اللهِ الَّذِيْ لَا إِلَهَ إِلا هُوَ الرَّحْمٰنُ الرَّحِيْمُ اللّٰهُمَّ أَذْهِبْ عَنِّي الْهَمَّ وَالْحُزْنَ

ژباړه: د الله په نامه سره چي د هغه بغير بل د عبادت لائق نسته هغه زيات مهربان او رحم کوونکئ دئ. يا الله! ته زما څخه غم او پرېشاني ليري کړې.

حصن حصين، ص۳۰۱ بحواله مسند البزار، المعجم الأوسط للطبرانی، عمل اليوم والليلة لابن السنی، عن انس رضی الله عنه

## ښه، اوس نو يو څو مبارک کلمات هم را زده کړه

### {مبارک کلمات}

(الله تعالی ته خوښي دوي کلمي)

سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ     سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِيمِ

ژباړه: زه د الله تعالی پاکي بيانوم د هغه د ثناء سره او زه د هغه الله تعالی پاکي بيانوم چي د عظمت خاوند دئ.

صحيح البخاری، کتاب الأيمان والنذور، باب اذا قال والله لا أتکلم اليوم فصلی أو قرأ أو سبح، رقم: ۶۱۸۸، صحيح مسلم، کتاب الذکر والدعاء والتوبة والاستغفار، باب فضل التهليل والتسبيح والدعاء، رقم: ۴۸۶۰، سنن الترمذی، کتاب الدعوات عن رسول الله صلی الله عليه وسلم، باب ما جاء فی فضل التسبيح والتکبير والتهليل والتحميد، رقم: ۳۳۸۹، سنن ابن ماجه، کتاب الادب، باب فضل التسبيح، رقم: ۳۷۹۶، مسند أحمد، رقم: ۶۸۷۰

---

[145]: سنن ابی داؤد: باب ما يقول الرجل إذا سلم، حديث نمبر: ۱۵۱۲، ۳۱۰مخ.
[146]: سنن ابي داؤد: باب فی الاستغفار، حديث نمبر: ۱۵۲۲، ۳۱۲ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## {كلمه شهادت}

أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ

ژباړه: زه شاهدي ورکوم چي د الله تعالی څخه ماسِوا بل د عبادت لائق نسته، هغه یو دئ شریک نه لري او زه شاهدي ورکوم چي محمد صلی الله علیه وسلم د الله تعالی بنده او د هغه رسول دئ.

صحيح مسلم، كتاب الطهارة، باب الذكر المستحب عقب الوضوء، رقم: ٣٤٥، سنن الترمذی، كتاب الطهارة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم، باب فيما يقال بعد الوضوء، رقم: ٥٠، سنن النسائی، كتاب التطبيق، باب كيف التشهد الأول، رقم: ١١٥٥، سنن أبی داؤد، كتاب الصلاة، باب ما يقول اذا سمع المؤذن، رقم: ٤٤١، سنن ابن ماجه، كتاب الطهارة وسننها، باب ما يقال بعد الوضوء، رقم:٤٦٢، مسند احمد، رقم: ١١٦، سنن الدارمی، كتاب الطهارة، باب القول بعد الوضوء، رقم:٧١٠

## {كلمه تمجيد}

سُبْحَانَ اللَّهِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ وَلاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ وَلاَ حَوْلَ وَلاَ قُوَّةَ إِلاَّ بِاللَّهِ الْعَلِيِّ الْعَظِيْمِ.

ژباړه: الله پاک دئ او ټول تعریفونه الله تعالی لره دي او د الله څخه ماسِوا بل د عبادت لائق نسته او الله تر ټولو لوی دئ او ګناهونو څخه را ګرځېدل او پر ښو کارونو قدرت د الله تعالی له طرفه دئ چي د لوړي درجې او عظمت خاوند دئ.

سنن أبی داؤد، كتاب الصلاة، باب ما يجزىء الأمی والأعجمی من القراءة، رقم: ٧٠٨، سنن ابن ماجه، كتاب الدعاء، باب ما يدعو اذا انتبه من الليل رقم: ٣٨٦٨

## {كلمه توحيد}

لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ , وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ ، يُحْيِي وَيُمِيتُ ، وَهُوَ حَيٌّ لاَ يَمُوتُ أَبَدًاأَبَدًا ، بِيَدِهِ الْخَيْرُ كُلُّهُ ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ.

ژباړه: د الله تعالی څخه بغیر بل د عبادت لائق نسته، هغه یو دئ شریک نه لري، هغه لره بادشاهي ده او هغه لره ټوله تعریفونه، هغه ژوند ورکوي، هغه مرګ ورکوي او هغه ژوندی دئ او هغه ته هیڅکله مرګ نسته، ټول خیر د هغه په قبضه کي دئ او هغه پر هر څه قدرت لري.

سنن الترمذی، كتاب الدعوات عن رسول الله صلى الله عليه وسلم، باب ما يقول اذا دخل السوق، رقم: ٣٣٥٠، سنن ابن ماجه، كتاب التجارات، باب الأسواق ودخولها، رقم:٢٢٢٦، سنن الدارمی، كتاب الاستئذان، باب ما يقول اذا دخل السوق، رقم:٢٥٧٦

(c) ketabton.com: The Digital Library


## {کلمه استغفار}

اللَّهُمَّ أَنْتَ رَبِّي لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ ★ خَلَقْتَنِي وَأَنَا عَبْدُكَ وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ ★أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ ★أَبُوءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ وَأَبُوءُ بِذَنْبِي ★فاغْفِرْ لِي فَإِنَّهُ لاَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلاَّ أَنْتَ.

ژباړه: يا الله! ته زما پروردګار ئې، ستا څخه بغير بل د عبادت لائق نسته، تا زه پيدا کړئ يم او زه ستا بنده يم او زه ستا پر عهد او وعده باندي تر خپل وس پوري ولاړ يم. زه د خپلو بدو اعمالو څخه په تا سره پنا غواړم، زه اقرار کوم چي ستا پر ما ډېري پېرزويني دي او زه پر خپله ګناه اقرار کوم نو ما معاف کړه ځکه چي ستا څخه بغير بل د ګناهونو بخښونکئ نسته.

(مشکوة: صفحه: ۲۰۴)

## {د استغفار لنډي کلمې}

أَسْتَغْفِرُ اللَّهَ الَّذِى لاَ إِلَهَ إِلاَّ هُوَ الْحَىُّ الْقَيُّومُ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ

ژباړه: زه د الله تعالی څخه بخښنه غواړم چي د هغه بغير بل د عبادت لائق نسته چي ژوندی دئ او د هر شي اختيار لرونکئ دئ او زه هغه ته توبه کاږم.

سنن أبی داؤد، کتاب الصلاة، باب فی الاستغفار، رقم: ۱۲۹۶، مسند أحمد، رقم: ۱۰۶۵۲، (مشکوة: صفحه: ۲۰۵)

## {کلمه رد کفر}

أَللّٰهُمَّ اِنِّیْ أَعُوْذُبِکَ مِنْ أَنْ أُشْرِکَ بِکَ شَيْأً وَّ أَنَا أَعْلَمُ بِهِ ★ وَأَسْتَغْفِرُکَ لِمَا لَا أَعْلَمُ بِهِ تُبْتُ عَنْهُ ★ وَتَبَرَّأْتُ مِنَ الْکُفْرِ وَالشِّرْکِ وَالْکِذْبِ وَالْغِيْبَةِ وَالْبِدْعَةِ وَالنَّمِيْمَةِ وَ الْفَوَاحِشِ وَالْبُهْتَانِ وَالْمَعَاصِیْ کُلِّهَا★وَأَسْلَمْتُ وَأَقُوْلُ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ اللّٰهِ.

ژباړه: يا الله! زه په تا سره پناه غواړم چي يو شی........ او ستا شريک ئې کړم او زه بخښنه غواړم په تا سره له هغي ګناه څخه چي زه په خبر نه يم. يا الله! ما د هري ګناه څخه توبه وکړه او زه بېزاره سوم د کفر، شرک، درواغو، غيبت، بدعت، شيطانت، بې حيا خبرو، پر چا تور پوري کول (تهمت لګول) او ټولو ګناهو څخه او زه مسلمان يم او (په پاک زړه سره) وايم چي د الله تعالی څخه بغير بل معبود نسته او محمد صلی الله عليه وسلم د الله جل جلاله رسول دئ.

قد نقل اهل العلم هذه الكلمات المباركة فی کتب الاحاديث او فی الکتب الاسلاميه و معانيها صحيحة و مفهومها مقبول

(c) ketabton.com: The Digital Library


| شماره | کتاب | طبع |
|---|---|---|
| ۱ | القرآن | تنزيل من رب العلمين |
| ۲ | صحيح البخاري | دارالسلام رياض |
| ۳ | صحيح مسلم | دارالسلام رياض |
| ۴ | الجامع الترمذی | دارالسلام رياض |
| ۵ | سنن ابی داؤد | دارالسلام رياض |
| ۶ | سنن ابن ماجه | دارالسلام رياض |
| ۷ | سنن النسائي | دارالسلام رياض |
| ۸ | المصنف لابن ابی شيبه | المجلس العلمي بيروت لبنان |
| ۹ | مرقاة المفاتيح | مکتبه رشيديه کوئټه |
| ۱۰ | کنزالعمال | دارالکتب علميه بيروت لبنان |
| ۱۱ | فتح الباری لابن حجر عسقلاني | قديمي کتب خانه کراچي |
| ۱۲ | نصب الرايه | مکتبه حقانيه پېښور |
| ۱۳ | مسند احمد بن حنبل | مؤسسة الرسالة بيروت لبنان |
| ۱۴ | سنن دارمی | دارالحديث قاهره |
| ۱۵ | ردالمحتار | مکتبه رشيديه کوئټه |
| ۱۶ | هدايه | مکتبه رشيديه کوئټه |
| ۱۷ | هنديه | مکتبه رشيديه کوئټه |
| ۱۸ | حاشية الطحطاوی | مکتبه رشيديه کوئټه |
| ۱۹ | الفقه الحنفی فی ثوبه الجديد | مکتبه حقانيه پېښور |

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**